

# چې د ستاسې بچی روغ رمټ رالوی شي.

## د "Zentrale Stelle Gesunde Kindheit" (د روغ ماشومتوب لپاره د مرکزي رياست) پېژندنه

ټول ميندې پلرونه يو ګډ ارمان لري: چې بچي يې په روغه سته لوی شي. په شمالي راين ويستفاليه کې هر ماشوم حق لري چې ښې روغې پالنې او د رنځونو مخه نيولو په موخه د ده لس ډاکټري معاينې وشي. دغه پروسيجرونه (کړنلارې) له U1 (زېږون پسې سمدستي) نه نيولې تر د شپږو کلونو U9 مرحلې پورې غځېدلي دي. د دغه ازموينو خرڅ په عامه توګه د د ستاسې د روغتيا په بيمه کې راځي.

دغه کاري هڅه موخه لري چې په شمالي راين ويستفاليه کې هر ماشوم پورې ورسي ، يعني چې يو هم ترې پاتې نشي ، او Zentrale Stelle Gesunde Kindheit د دغه وقايوي معاينو ريکارډ (تاريخچې) ساتي. دا په دغه ډول ترسره کېږي: هر هغه ماشوم په اړه ، چې د شپږو مياشتو عمر نه تر پنځه نيمو کلونو عمر په منځ کې يې د ټاکلو شپږو ازموينو له ډلې (U5 نه تر U9) لږ تر لږه يوه ازموينه ترسره کړې ده ، ډاکټر Zentrale Stelle Gesunde Kindheit ته تصديقي ليک لېږي. دا خو ځرګنده خبره ده چې به ورځنيز ژوند کې له ذهن ډاکټر سره د ليدو وخت هېرېدې شي ، او دا هم کېدې شي چې ځينې مور او پلار د رنځونو مخه نيوونکو دغو معاينو په اړه خبر نه وي. نو ځکه Zentrale Stelle Gesunde Kindheit د هغو ټولو ماشومانو چې معاينې يې نه دي شوې ريکارډ ځان سره ساتي. د معاينې ټاکلې مودې له تېرو څو ورځې وروسته (که د U5 مرحله وه نو د معاينې ټاکلې مودې نه 14 ورځې وروسته) به ميندو پلرونو ته يو بلنليک استول کېږي.

که دغه وريادونې نه درې اوونۍ (د U5 په مرحله کې شپږ اوونۍ) وروسته هم د معاينې د ترسره کېدو هېڅ ثبوت ترلاسه نه شو ، نو مسول کمون (مشترکه ټولنې) ته به خبر رسول کېږي. له هغې وروسته بيا د کمون پر غاړه ده چې ايا يا څرنګه هغه مور و پلار سره تماس نيسي.

که چيرې د يادونې ليک نه شپږ اونۍ وروسته، مرکزي دفتر د ارزونې پايله ترلاسه نکړي، د اوسيدو مسؤل ځای ته به خبر ورکړل شي. لدې وروسته، انجمن د خپل مسؤليت په تړاو د والدين سره د اړيکه نيولو يا نه نيولو په اړه او د دې اړيکې د څرنګوالي په اړه پريکړه کوي. دا چاره کورنۍ ته اجازه ورکوي چې د اړتيا په صورت کې ملاتړ وکړي.

**نورو معلومات ترلاسه کولو لپاره:**

Zentrale Stelle Gesunde Kindheit
ټيليفون: 2222 91535-0234
(د خدمت ساعتونه: دوشنبه تر پنجشنبه د سهار 9:00 تر غرمې 12:00 بجې)
انټرنټ پته: www.gesunde-kindheit.nrw.de

Landeszentrum Gesundheit
Nordrhein-Westfalen

Paschtu, Stand: 02/2022